یا من اسمه دواء و ذکره شفاء

))اے هغه خدایه! چې نوم یې درمل او ذکر یې شفا ده((

قرآنی روغتیا

)یوه لنډه پېژندګلی(

په تېرو ورځو کښې خپل یو دوست د مردان سیمې ښاغلی عبدالرحیم درانی چې د پښتو د یو شمېر کتابونو لیکوال او ژباړونکے دے راته د یوې سی ډی د اورېدو لاربښوونه وکړه چې پکښې د ښاغلی استاذ جمشېد خدادادی وېناګانې وې. یقین وکړئ چې هغه سی ډی چې پکښې د قرآن او انسانی سلامتیا او روغتیا په موضوع لس لېکچرونه وو داسې خوندور، په نه انکارېدونکو عقلی او نقلی دلائلو مشتمل او د انسان د فطرت عېن مطابق وو چې مې بیا بیا هغه لېکچرونه وارېدل او خوند به یې راکوۀ او نوې نوې خبرې به مخې ته راتلې. بیا مې په تکل سره د دغه قدرمن استاذ څه لیکنې او یو دوه کتابونه هم تر لاسه کړل او له لوستلو نه پس مې غوښتل چې څه پرې ولیکم او د خداےپاک مخلوقاتو ته ترې څه ګټه ورسی

ښاغلے استاذ جمشید خدادادی د ایران د اسلامی جمهوریت له اصفهان ښار سره تعلق لری. که څه هم په بنیادی توګه د هوائی ځواك ستر افسر او د پرمختللیو ماډرن هوائی جهازونو (الوتکو) لوے ماهر دے خو څه موده اګاهو ورته داسې حالات رامنځته شول چې د قرآن او سلامتیا په موضوع یې تحقیقات شروع کړل. لکه هغه د خپل ځان په باره کښې وائی چې کله زۀ په ښه بده پوه شوم نو یو سوال به زما په ذهن کښې راتۀ او هغه دا چې زۀ ولې مسلمان یم ایا چې زۀ په مسلمانه کورنۍ کښې پېدا شوم نو خا مخا به مسلمان یم او همدا مسلمانی عقیده صحیح ده ځکه چې زۀ پکښې پېدا شوے یم؟ نو بس په دې موضوع مې ریسرچ او څېړنه شروع کړه او تقریبا د دنیا د ټولو مشهورو دینونو او مذهبونو مطالعه او تحقیق مې شروع کړ او اخیر کار دې نتیجې ته ورسېدم چې اسلامی عقائد او اسلامی تعلیمات د انسان د فطرت عېن مطابق دی. وائی بیا په هغو وختونو کښې چې په ایران باندې د عراق لخوا په مسلط شوی جنګ کښې په اخیر کښې کله د د ملګرو ملتو د ۵۹۸ قرارداد له مخې جنګ بند شو نو د ملګرو ملتو (یو این ) لخوا د افسرانو یو ماموریتی پلاوے (وفد) راغلے ؤ نو زۀ د یو رابطه افسر په توګه له هغوی سره په تماس کښې وم په دغه پلاوی کښې د یوګوسلاویې یو افسر ؤ چې (( ډیوېډ اویچ )) نومېدۀ هغۀ سره یو ډول دارو وو چې (( پراپولیز )) نومیدل خو عجیبه دا چې چا ته به چې هر څه بیماری ولګېده نو هم هغه درمل به یې ورکوۀ چې هغه کله لاړ نو زما په غوښتنه یې ما ته هغه دارو راولېږل نو ما په هغۀ باندې تحقیقات شروع کړل او په اخېر کښې ډېر حېران شوم چې د دغه دارو پوره فارمولا بو علی سینا د خپل کتاب (( قانون )) په دویم ټوك کښې په تفصیل سره لیکلے ده نو بس له هغې ورځې نه د قرآن مجید په دې دعوا چې فرمائی چې ولا رطب و لا یابس الا في کتاب مبین. ( انعام ۵۹ ) یعنې هیڅ لوند او تر داسې نشته چې په دې مبین کتاب کښې موجود نه وی تحقیق شروع کړ چې قرآن مجید هر کله دا دعوا کوی نو بې ځایه نه ده او دا چې قرآن مجید یو معجزه او شفاء ده نو پکار دی چې په دې کتاب کښې د انسان د ټولو بیماریو په خاصه توګه د هغو بیماریو چې ډاکټران او طبیبان یې له علاج څخه عاجز دی موجود وی او چې څومره د قرآن مجید د مبارکو ایتونو ژورتیا ته تلم دومره به راته د علم او حکمت نوی یوی

بانونه او کړکۍ خلاصېدې او بالاخره مې له دغه معجزاتي کتاب څخه د انسان د ټولو بیماریو علاج کشف کړ. او د خدای پاك دا فرمان بالکل په ځای دی چې فرمائي: والذین جاهدوا فینا لنهدینهم سبلنا (سورهٔ عنکبوت ۶۹ ایت) یعنې (( چې څوك زما په لار کښې کوشش او هڅه کوي نو زهٔ یې خپلو لارو ته هدایت کوم )) هغه وائي چې په قرآن مجید کښې ۱۶۰ ایتونه د انسان د خوراك څښاك په حقله راغلي دي چې دا چاره د انسان خوراکونو ته د قرآن مجید د اهمیت ورکولو ښودنه کوي.

اوس دغه محترم استاذ د قرآني طب په څانګه کښې په دنیا کښې یواځېنی محقق او متخصص دی او تر اوسه په دې موضوع چا هم څېړنه نه ده کړې او د ایران په لوی طبي سائنسدانانو او موجدانو کښې شامل دی او په دې څانګه کښې یې اعزازي ډیګري اخېستې ده. دغه محترم تر اوسه پورې په ډېرو زیاتو هغو بیماریو چې جدید مېډیکل سائنس یې تر اوسه علت نه دی معلوم کړی علت یې له قرآن مجید څخه کشف کړی او هغه بیمارۍ یې معالجه کړې دي او بیمارانو یې شفا موندې ده چې پکښې یو تر ټولو وروستۍ او مشهوره بیماري ایم ایس هم ده. هغه وائي چې په قرآن مجید کښې د ټولو ناروغېو علاج موجود دی خو که انسان ورته غور او فکر وکړي په دې کتاب کښې که یو طرف ته د انسان لپاره روحي او معنوي شفا ده نو بل طرف ته پکښې بدني شفاء هم ده ځکه چې انسان د دوو څیزونو مجموعه ده یو روح دی او یو بدن نو قرآن مجید د انسان د دې دواړو اړخونو خیال ساتلی دی.. هغه دا هم وائي چې د انسان علاج خدای پاك خپله د انسان په خوراکونو کښې اېښودی دی او که انسان خوراکونه هغسې وخوري چې څنګه قرآن او اسلام یې مونږ ته سپارښتنه کړې ده نو یوه بیماري به هم انسان ته نزدې نه راځي او که د خپلو بې احتیاطیو په وجه بیمار هم شي نو په هم دغو خوراکونو کښې یې علاج موجود دی چې کوم بې شمېره خوراکونه مونږ ته خدای پاك د نعمتونو په توګه عطا کړي دي. او که انسان د خوراك دغه روشونه او رودې عملي کړي نو هیڅکله به بیمار نه شي او چې نه بیمارېږي نو عمر به یې هم ډېر زیات وي.

د ښاغلي خدادادي د نظریې له مخې خدای پاك حیواناتو په خپل یو فطرت باندې پیدا کړي دي او هر یو حیوان د خپل خپل فطرت مطابق خوراکونه خوري لکه که ګډې او بزې وغېره ته غوښه واچوې نو که ډېر هم اوږي وي نو و به یې نه خوري خو که واښهٔ ورته واچوې نو خوري یې دغه شان که پیشو او سپي وغېره ته واښهٔ مخې ته کېږدې نو که ډېر هم اوږي وي نو څکه به ترې و نه کړي او که غوښه ورته واچوې نو خوري یې. خو بل طرف ته خدای پاك انسان اشرف المخلوقات ګرځولی دی او ورته یې په خوراك څښاك او اعمالو کښې ازادي ورکړې ده چې هغه له دې ازادۍ نه په ناوړې استفادې سره د هر ډول بدو عملونو په ترڅ کښې په خوراکونو کښې هم هره الابلا وراچوي او چې بیمار شي نو ډاکټرانو ته مراجعه وکړي چې هغوی یې په رائجو کېمیائي داروګانو هغه درد او تکیلف په وختي توګه اودهٔ کړي او د بیمارۍ هغه علت هم هغه شان پاتې شي او بل طرف ته چې هغه داروګان په بدن کښې کوم خپل منفي اثرات پرېږدي له هغو څخه نورې بیمارۍ په وجود کښې راشي او انسان زر د کټ شي او بالاخره داسې بیمارۍ ورته ولګي چې ډاکټران ورته ځواب ورکړي او اخېر مړ شي.

د ښاغلی د نظریې مطابق د انسان دا بدن د خدا ے پاك یو امانت دے نو پکار دی چې دا امانت په ډېر احتیاط سره استعمال شی ځکه چې خدا ے پاك به څنګه په اخېرت کښې له انسان نه د اعمالو تپوس کوی نو دغه شان به ترې د بدن تپوس هم کوی چې څه یې ورسره کړی دی؟ بلکې استاذ خدادادی په قرآنی دلائلو سره دا هم ثابتوی چې د انسان خوراك څښاك د هغهٔ له ښو او بدو اعمالو سره نېغ په نېغه تعلق لری یعنې یو خوراك کولې شی انسان بدعملۍ، فحاشۍ، وحشت او ډول ډول ګناهونو ته وهڅوی او دغه شان یو خوراك کولې شی چې په انسان کښې مینه، صبر، استقامت او روحانیت پېدا کړی. لکه په قرآن مجید کښې د خنځیر غوښه حرامه کړې شوې ده نو ځکه چې په خنځیر کښې داسې عادتونه دی چې د هغهٔ د غوښې په خوړلو سره په انسان کښې هغه عادتونه راځی چې بالاخره هغه بد عادتونه د انسان د دواړو جهانو د بدبختۍ او هلاکت سبب ګرځی. خدا ے پاك د خنځیر غوښه یو مثال راوړے او اشاره یې ورته کړې ده په نورو غوښو خوړلو کښې خپله انسان ته پکار دی څېړنه وکړی.

محترم استاذ ادعا کوی چې انسان خدا ے پاك غوښه خور نه بلکې سبزی خور، مېوې خور ، دالونه خور او غلې خور پېدا کړې دے او که په سائنسی توګه د یو غوښه خور ځناور د بدن د اندامونو، لاسونو پښو، پنجو، غاښونو، د معدې د جوړښت معائنه وشی او په مقابل کښې یې د انسان د دغو ټولو اندامونو معائنه وشی نو د دواړو ترمېنځ به د زمکې او اسمان فرق وی او دا به په سائنسی توګه ثابته شی چې د انسان اندامونه د مېوې او سبزۍ لپاره جوړ کړې شوی دی. هغه وائی چې له دې نه انکار نه شی کېدې چې کوم حېوانات خدا ے پاك حلال کړی دی نو غوښه یې خوړل پکار دی خو مطلب دا نه شو چې شپه او ورځ دې غوښین ځیزونه خوری بلکې زیات نه زیات په هفته کښې یو ځل غوښه خوړل پکار دی او هغه هم کوشش پکار دے چې د اوبو د حېواناتو لکه کب غوښه خوړل پکار ده او که د زمکنی حېواناتو غوښه خورې نو تر ټولو ښه غوښه د ګډو بزو غوښه ده او بیا احتیاط پکار دے چې که هغه حېوانات په غرونو کښې څرېدلی وی او قدرتی ګیاګانې یې خوړلې وی نو غوښه او پۍ (شودهٔ) استعمالول یې د انسان لپاره ښهٔ دی او که نه په مصنوعی طریقه رالوې شویو ګیاګانو باندې غټ شوے وی نو غوښه او پۍ وغېره یې د فائدې په ځا ے نقصان کوی. دغه شان مصنوعی او فارمی چرګان او هګۍ هم دغه حال دے چې هغوی ته کلورومفینکول په شان خطرناك داروګان او نور خطرناکې بیمارۍ
جوړوونکی خوراکونه ورته ورکیږی او ستنې ورته لګول کیږی چې په دغو باندې وده موندونکو چرګانو غوښه خوړلو سره په انسان کښې رنګ رنګ خطرناکې بیمارۍ راپېداکیږی. او تر ټولو خطرناکه او د ظلم خبره دا چې دغه چرګان له ۴۵ نه تر ۵۰ ورځو پورې نه پرېږدی چې اودهٔ شی چې له دې کبله یې بدن له تیزابیت نه ډك وی. دغه شان په کور کښې پالل شوی هغه چرګان چې چرمخکۍ، کرړی، چینجی، ګونګټان او منږکان خوری د هغو غوښه خوړل هم د انسان لپاره خطرناك او د ډول ډول بیماریو سبب ګرځی له دې نه علاوه په حېواناتو کښې هغه حېوانات چې نجاستونه خوری له هغو څخه چرګان هم دی او د خدا ے د ګران رسول (ص) په احادیثو کښې راغلی دی چې (( چرګ د مارغانو خنځیر دے )). البته که چرګان په داسې ماحول کښې وساتل شی چې دغه ځیزونه و نه خوری او پاك خوراکونه ورته ورکړې شی نو څېر دے که غوښه او هګۍ یې وخوړې شی.دغه شان استاذ جمشېد خدادادی د خوراك د هغو ځیزونو د خوړلو چې په مصنوعی توګه په کارخانو کښې تیاریږی په خاصه توګه چې په ټیلی ویژن او اخبارانو رسالو کښې یې تبلیغات کیږی مخالفت کوی او د انسان لپاره یې ډېر خطرناك او د بیماریو سبب ګنی او په ډېرو نویو سائنسی دلائلو سره یې خپلې ادعاګانې ثابتې کړې دی او وائی که انسان د دغو ځیزونو کارخانو ته لاړ شی او وګوری چې دا څنګه جوړیږی او کوم زهرجن او خطرناك ځیزونه پکښې ګډوی او د هغو کېمیائی ځیزونو څېړنه وشی نو ټول عمر به دغو خوراکونو ته نزدې ورنشی. دغه شان د چایو ،

ماستو او کوکوکاکولا، فانټا ، پیپسی او د دا ډول مصنوعی شربتونو، او د بېکری د ځیزونو، سپنډ وېچونو، پیزاګانو وغېره له استعمال نه هم خلق په سختئ سره منعې کړی دی.

بله خبره چې محترم استاذ ترې نه خلق منعې کوی خوراکونه او پخکړې په پرېشرکوکر، مائېکرو فېر او د دا ډول ځیزونو کښې پخول دی او په سائنسی دلائلو سره یې ثابتوی چې په دغه ډول ځیزونو کښې په پخ شوی خوراکونو کښې د هغوی د سېلولونو ترتیب تباه کیږی او پکښې شامل وېټامنونه او نورې انرجئ له منځه ځی او فقط د بوسو په شېر یو ځیز پاتې کیږی چې فقط خېټه پرې ډکه شی او د فائدې په ځاے نقصان کوی. هدا رنګ هغه له ډوډئ نه لږ مخکښې، د ډوډئ په دوران کښې یا له ډوډئ نه فورا پس اوبو څښل ډېر ضرر ورکوونکې ګڼی او سپارښتنه کوی چې له ډوډئ نه نیمه ګېنټه مخکښې او له ډوډئ نه دوه نیمې ګېنټې پس اوبو څښل پکار دی.

په هر حال هغۀ قدرمن چې د کومو ځیزونو له خوړلو نه خلق منعې کړی دی نو ډېر عمر یې په هغو باندې تحقیقات کړی دی او چې کوم نقصانات یې په ګوته کړی دی له هغو څخه تر اوسه یو روعتیائی سائنسدان او ډاکټر انکار نه دے کړے.او نه کولې شی.

او تر ټولو په زړۀ پورې خبره دا چې محترم استاذ چې له کومو ځیزونو له خوړلو نه خلق منعې کړی دی نو خلق یې همداسې بې برخلیکه نه دی پرېښودی بلکې د هر منعې کړی شوی ځیز په مقابل کښې یې څو چنده خوراکونه ښودلی دی چې ټول هغه انرجئ چې په منعې کړې شویو خوراکونو کښې پکار دی موجودې وی خو انسان د هغو په تیارولو کښې هغه له منځه وړی وی.د استاذ په ښودل شویو خوراکونو کښې هغه انرجئ په څو چنده موجودې دی او بله ښه خبره دا چې هغه مصنوعی خوراکونه چې کوم منفی اغېزې لری هغه د استاذ په ښودل شویو قدرتی او طبیعی خوراکونو کښې وجود نه لری او لا عجیبه خبره دا چې خوند او رنګ به یې هم له مصنوعی یا په غلطه طریقه پخکړې شویوخوراکونو څخه زیات وی. البته که څه هم هغه د سبزېو او دالونو په پخلیو باندې ډېر زور ورکوی خو بیا هم د کټوی پخولو موجوده رائجو طریقو مخالف دے او د دغو ځیزونو د پخولو لپاره یو ډول مخصوصې او دودیزې طریقې ښئ چې په هغو باندې په عمل کولو سره د دغو پخکړېو ځیزونو خوند، رنګ او مزه هم زیاته وی او انرجی او طاقت یې هم په خپل ځاے برقرار پاتې وی په خاصه توګه هغه د چکه غوړو سخت مخالف دے او د تېلو استعمالو په تېره بیا د زېتون د تېلو او که زېتون نه وی نو د نمرپرست ګل د تېلو د خوړلو سپارښتنه کوی همدا رنګ د تېلو سرۀ کول یې هم په سختئ سره منعې کړی دی. او د اخلی پخلی ډېر خوندورې او جالبې طریقې یې ښودلې دی لکه په یو کتاب کښې یې د څو سوو پخکړېو او خوراکونو د اخلی پخلی طریقې ښودلې دی او هم دا رنګ یې په یو بل کتاب کښې تر سلو پورې شربتونه او جوسونه جوړول ښودلی دی خو په دغو ټولو پخکړېو ، خوراکونو او شربتونو او جوسونو کښې یې یو هم مصنوعی ځیز نه دے استعمال کړے ټول ځیزونه یې طبیعی او عام خوراکی ځیزونه دی.

ښاغلے استاذ جمشید خدادادی د ایران یو پېژندل شوے شخصیت د روغتیا او خوراکونو په موضوع ګانو یې مختلف کتابونه لیکلی او په پوهنتونو کښې یې باقاعده کېلاسونه لګی په هغو کېلاسونو کښې چې د ډاکټرانو په شمول د ژوند د مختلفو شعبو خلق موجود وی ګډون کوونکو ته لېکچرونه ورکوی چې د هغو لېکچرونو سی ډی ګانې هم جوړې شوی دی او خلق ترې استفاده کوی . هغهٔ ته نن سبا داسې بیماران مراجعه کوی چې ډاکټرانو ورته ځوابونه ورکړی وی. یا ځینې ډاکټران هم ورته د خپلو بیمارانو لپاره مراجعه کوی بله عجیبه دا چې هغهٔ ته کوم مریضان مراجعه کوی نو ورته داروګان نه ورکوی بلکې ورته وائی چې دا دا خوراکونه بند کړه او دا دا خوراکونه خوره او په دې طریقه یې خوره او هغه بیماران د خدائے پاک په فضل سره جوړ شوی دی چې ډاکټران ورته حېران شوی چې دا څنګه جوړ شوی دی؟ او په زړهٔ پورې خبره دا چې هغهٔ ته څوك بیمار د علاج یا مشورې لپاره مراجعه کوی نو  هغه ترې څه فیسونه او پېسې نه اخلی بلکې بس فیس یې دا دے چې ورته ووائی چې د خدائے پاك شکر ادا کړه چې دومره نعمتونه یې درته عطا کړی دی او په حضرت محمد (ص) او د هغوی په آل باندې درود ولېږهٔ.چې د هغوی له مخه یې درباندې دومره مهربانئ کړی دی. او بله جالبه خبره دا چې هغه وائی چې له دې قرانی او طبیعی خوراکونو له استعمالو نه مخکښې زهٔ او زما کورنئ به هر وخت په بیماریو اخته وو او په روغتونونو کښې به داخل وو خو چې له کله نه مو دغه منعې کړې  شوی خوراکونو خوړل پرېښودل او فطری او طبیعی خوراکونو ته مو مخه کړې ده نو کلونه وشول چې حتی زکام او سرخوږے هم راته نه دے لګېدلے او نه مو چرته یوه ډسپرین ګولئ استعمال کړې ده.

د بیماریو د تشخیص په حقله د دې سوال په ځواب کښې چې تهٔ د بیماریو تشخیص څنګه کوې وائی: زهٔ د ژبې او مخ  او لاسونو په کتو سره د بیماریو تشخیص کوم حتی د هغو بیماریو چې په لېبارټریو کښې یې تشخیص نه کیږی د خدائے په فضل سره د ژبې او مخ او لاسونو په کتو سره یې تشخیص ممکن دے.

د استاذ خدادادی اصل مقصد دا دے چې د انسان خالق، مالك او جوړوونکے خدائے پاك دے او چې په عام ژوند کښې هم چې یوه مشینری چا سائنسدان جوړه کړی وی نو هغه پرې ښه پوهیږی چې دا مشین په څه چلیږی، څه ورته ښه دی او څه ورته نه دی ښهٔ او په څه سره خرابیږی؟ نو دغه شان انسان ته هم پکار دی چې د خپل بدن د مشینرئ په باره کښې د دې جوړوونکی یعنې خدائے پاك ته رجوع وکړی چې هغه پاك ذات د خپل پاك قرآن، پاك نبی او پاکو بزرګانو په ذریعه د دغې پېچیده مشینرئ د استعمالولو له څه رنګوالی نه خبر کړی یو،  نو پکار دی چې د خالق په هغو هدایاتو باندې عمل وشی. د هغهٔ په قول هر هغه علم چې هغه په ژوند کښې د ځان او نورو مخلوقاتو د فائدې لپاره استعمال نه شی هغه علم نه یواځې دا چې څه فائده نه کوی بلکې اکثر وختونه د فائدې په ځائے نقصان کوی.

په اصل کښې محترام استاذ غواړی چې انسان د خپل فطرت په مطابق ژوند وکړی او له مصنوعی ژوند څخه  راوځی  او خپل خدائے ته نزدې شی ځکه چې هغه کله د فطری او طبیعی نعمتونو بې شمېره او معجزانه ښېګړې په عملی توګه ووینی نو د خپل خالق او مالك به لازیات موحد ، شکرګزاره او منونکے بنده جوړ شی.دلته دې مسئلې ته هم پکار دی پاملرنه وشی چې اکثر خلق لیدل شوی دی چې کله بیمار شی نو وائی چې خدایه پاکه تا راباندې دا درانهٔ ابنودی دی یا وائی بس

دا د خداے کارونه دی چې په داسې مصیبت کښې یې راګېر کړے یم حال دا  چې خداے پاك په خپلو بندګانو باندې ډېر زیات مهربان دے او د هغوی خېر غواړی بیدک الخیر  د هغهٔ په لاس کښې خېر دے بد نشته او هیڅکله دا نه غواړی چې یو بنده دې بدبخته او بدمرغه یا بیمار شی. دا هر څه انسان په خپله په خپل ځان کوی او که یو کس خا مخا ځان د ذلت، خوارۍ او بدبختۍ په لور راکاږی نو بیا یې خداے پاك هم په خپل هغه حالت کښې پرېږدی. البته که د خپلې تېروتنې او اشتباه په وجه انسان په څه مصیبت یا بیمارۍ کښې مبتلا شی نو بیا غفور او رحیم ذات پرې مهربانی کوی او هغه مصیبت او  بیمارۍ ترې لرې کوی او یو لړ داسې اسباب یې ورته په دنیا کښې رامنځته کړی دی چې د هغو په ذریعې سره شفاء بیا مومی لکه په قران کښې په یو ځاے کښې حضرت ابراهیم (ع) د ټولو انسانانو په نمائندګۍ سره وائی:وإذا مرضت فهو یشفین ((یعنې ه چې کله زهٔ بیمار شم نو هغه ذات ( خداے پاك ) راته شفاء راکوی )) یعنې په دې ایت مبارك کښې داسې نه وائی چې  خداے پاك مې بیماروی. بلکې وائی چې زهٔ خپله بیمارېږم یعنې انسان خپله ځان بیمار کړی نو بیا شفاء ورته خداے پاك ورکوی. یعنې انسان خو له خپله لاسه ځان تباه کړے وی خو دا د خداے پاك مهربانی ده چې د هغهٔ د شفاء لپاره یې په دنیا کښې یو لړ داسې شفاء ورکوونکی خوراکونه پېدا کړی دی چې د هغو په استعمالولو سره رغیږی. خداے پاك هیڅله په چا ظلم نه کوی چې بې ګناه بې خطا چا ته بیماری او بدبختی وربغاړه کړی. دلته به ډېر په افسوس سره ووایم چې ځینو ملایانو هم د قضاء او قدر په مسئله کښې له خداے پاك نه یو ډکتیټر او جابر باچا جوړ کړے دے او بس بې ګناه بې خطا خپل هغه مخلوق چې په ډېرې مینې یې جوړ کړے دے زوروی. اروابناد غنی خان به ډېرې ښکلې خبرې کولې لکه د هغهٔ د نظریې مطابق: ((ځینو ملایانو له خداے پاك نه یو باؤ بلا جوړ کړې ده حال دا چې خداے پاك زما جانان دے هغه ما سره مینه کوی زهٔ به هغهٔ سره مینه کوم او دا ښکلے انسان چې یې په ډېره مینه جوړ کړے دے امکان نه لری چې بې ګناه بې خطا یې و ډبوی او وې  زوروی((

نو بس انسان ته پکار دی چې د خپل خالق لور ته رجوع وکړی او کومه فطری لاره چې خداے پاك ورته ټاکلې ده په هغه لاړ یون وکړی او د ژوند په هر ډګر او هره مرحله کښې له هغه مهربان ذات څخه لاربښوونه او هدایت واخلی نو په داسې حالت کښې به یې ټولې نېکمرغۍ او خوشحالۍ پښو ته راشی.او په دا ډول به د مالك او بنده په مېنځ کښې د مینې او محبت او عشق هغه رشته لامضبوطه او خوږه شی . بده به نه وی چې په اخېر کښې د خداے پاك د دغه عظیم الشان کتاب قران مجید په باره کښې د امیرالمومنین حضرت علی (ع) یوه وېنا وړاندې کړم چې فرمائی:

))قرآن هغه نور دے چې تیارهٔ پکښې نه موندل کیږی او هغه څراغ دے چې رڼا لره یې زوال نشته، هغه رسۍ ده چې رشته یې پیاوړې ده، هغه پناهځاے دے چې څوکه یې اوچته ده، هغه سمندر دے چې تړی یې په اوبهٔ راوبستلو نه شی ختمولې،هغه شفاء ورکوونکے دے چې له ویرې او وحشت نه ډکې بیمارۍ له منځه وړی. قرآن د علم د چینو د زړهٔ سپرلے، د عدل او انصاف سرچینه او د حقیقت صفا جاری نهر دے. نو بس خپل علاج له قرآن نه وغواړئ او مصیبتونو کښې له قرآن نه مرسته واخلئ او خپلې غوښتنې د قرآن په وسیله وغواړئ او له قرآن سره په دوستۍ سره د خداے لور ته مخه کړئ، ځکه چې له خداے پاك سره د بندګانو د نزدیکت لپاره له قرآن نه بله ښه وسیله نشته )) (نهج البلاغه، د امام علی (ع) له ۱۷۶ او ۱۹۸ خطبو څخه(

په هر حال ما بنده هم د خداے پاك د مخلوقاتو په تېره بيا د خپلو پښتنو ورونو خوېندو د استفادې لپاره ځنې غټې غټې خبرې قلم ته وسپارلې او انشاء الله كه خداے پاك وغواړي نو په راتلونكو وختونوكښې به د دغه قدرمن محقق او څېړونكى استاذ له ليكنو او لېكچرونو څخه څه نا څه نور مطالب هم خپلو ګرانو پښتنو ته ډالۍ كړم.

تول ثنا صفتونه هغه پاك رب لره دى چې زمونږ انسانانو د هدايت لپاره يې زمونږ په شكل كښې پېغبران عليهم السلام راولېږل. الهى پېغمبران د انسانانو د هدايت او د افكارو د ودې لپاره مبعوث كړې شوى دى. د هر انسان ارزښت او مقام د هغۀ د فكر او سوچ د طرز په مطابق دے. د خداے پاك ذاب د لايزال او بې انتها قدرت خاوند دے. هغۀ په مونږ باندې خپل بې شمېره نعتونه پېرزو كړى دى او په مونږ يې ډېر لوے احسان كړے دے او دغه ستر احسان د پېغمبراكرم ( صلى الله عليه و آله وسلم ) نعمت دے چې په دې حقله قرآن مجيد داسې فرمائى:

لقد من الله علي المومنين اذ بعث فيهم رسولا من انفسهم يتلوا عليهم آياته و يزكيهم و يعلمهم الكتاب و الحكمة و ان كانوا من قبل لفي ضلال مبين (سوره آل عمران آيه ۱۶۴(.

))يقينا چې خداے پاك په مومنانو باندې احسان كړے دے چې د هغوى ترمېنځ يې له هغوى څخه يو رسول ولېږۀ چې هغه په هغوى باندې د خداے ايتونه تلاوتوى او هغوى پاكوى او ورته د كتاب او حكت تعليم وركوى كه څه هم له دې مخكښې دغه خلق په ښكاره ګمراهۍ كښې وو((

پېغمبرى يو هغه لوے نعمت دے چې خداے پاك زمونږ انسانانو د عقلى ودې او فكرى بشپړتيا لپاره په مونږ پېرزو كړے دے چې په هغو پېغبرانو عليهم السلام كښې تر ټولو اخيرى د خداے ګران رسول حضرت محمد مصطفى ( صلى الله عليه و آله وسلم ) دے. هر پېغمبر د خپل حقانيت د ثابتولو لپاره مجزه لرلې ده او د خداے ګران رسول ( صلى الله عليه و آله وسلم ) هم له دې قائدې نه مستثنى نه دے او د هغۀ معجزه قرآن مجيد دے چې په حقيقت كښې يو ابدى او همېشنۍ معجزه ده. په حقيقت كښې د هر انسان سلامتيا او نېكمرغى د قرآن مجيد له پوهې او په خپل روزمره ژوند كښې د هغه له كارولو سره تړاؤ لرى.

نن په مونږ مسلمانانو كښې دوه مورده مظلوم ګرځېدلى دى او همدا چاره د مسلمانانو د شا ته پاتې والى سبب ګرځېدلې ده. او دغه دواړه موردونه د ذوالجلال والاكرام خداے پاك ذات او قرآن مجيد دے. خداے پاك په دې لړ كښې په قرآن مجيد كښې داسې فرمائى:

افلا يتدبرون القرآن ( سورۀ نساء ۸۲ ایت(

))ايا دوی په قرآن مجيد کښې فکر نۀ کوی؟((

نو اے قدرمنو لوستونکو! اے ګلالو! ايا تر اوسه مو په دې لړ کښې څه فکر او تدبر کړے دے يا نه؟ ايا داسې يو پرېکړه او فېصله مو په ذهن کښې راغلې ده يا نه؟ البته انسان يو داسې حقيقت دے چې خداے پاك د ټولو موجوداتو له خلقت نه پس پېدا کړ، په حقيقت کښې انسان د نورو مخلوقاتو په پرتله يو جديدالخلقت ( ماډرن ) مخلوق دے او خداے پاك د انسان په پېدا کولو باندې ډېر خوشحال شو چې په قرآن مجيد کښې يې په دې حقله د دې خوشحالۍ څرګندونه په دا ډول کړې ده:

فتبارک الله احسن الخالقين (سورۀ مومنون ۱۴ ایت(

))نو څومره برکت والادے هغه خداے چې دومره ښه ( د انسان ) پېدا کوونکے دے((

نو له دې رويه انسان څومره عجيبه مخلوق دے چې خداے پاك هم يې په پېدا کولو باندې د خپلې خوښۍ او خوشحالۍ څرګندونه کوی؟ له نورو موجوداتو سره د انسان تر ټولو مهم او غوره تفاوت او فرق په دې برتريو کښې دے چې دې يې پکښې ځانګړې او ممتاز ګرځولے دے:

))*تکلم )) يعنې د خبرو کولو توان

)) *تفکر )) يعنې د فکر او غور کولو توان

)) *خلاقيت، ابداعات او اختراعات )) يعنې د تخليقاتو، ايجاداتو او نوښتونو توان لرل

په دې دریو چارو کښې په لږ غور کولو سره په دې پوهېږو چې انسان په حقیقت کښې یو عجیبه او خارق العادت مخلوق دے. دې کولې شی حېرانوونکی کارونه ترسره کړی او په نړۍ کښې ستر ستر بدلونونه راولی، د فطرت او طبیعت قوانین کشف کړی، په ادب، کلتور او هنر کښې اغېزمن وګرځی او په فکر او غور سره مجهولاتو او پټو رازونو ته ځان ورسوی.

نو اوس انسان د فکر او خلاقیت په دومره زیات توان او طاقت لرلو سره ایا کولې شی چې ځان د حالاتو په بهیر کښې په خپل حال پرېږدی؟!، د حیات او ژوند د دوام لپاره څه پروګرام و نۀ لری؟ په لږ غور او فکر سره په دې پوهېدې شو چې خدائے پاك انسان په خپل حال نه دے پرېښودے او د هغۀ د ودې ترقۍ او د ژوند د ښۀ کېدو لپاره یې یو لړ پیغبران علیهم السلام رالېږلی دی. هر پیغبر د خپل د خپلې دعوې د ثابتولو لپاره معجزه لرلې ده او په دغو پیغمبرانو علیمهم السلام کښې تر ټولو اخیری د خدائے پاك ګران رسول ( صلی الله علیه و آله وسلم ) دے او خدائے پاك هغه په (( رحمت للعالمین )) باندې ونومولو او هغه یې د قرآن مجید په نوم په یوې ابدی او تل پاتې کېدونکې معجزې سره سنبال کړ.

دا کتاب په حقیقت کښې د پنځون په نړۍ د موجودو ټولو انسانانو لپاره کافی دے او کولې شی د هغوی د نېکمرغۍ او سلامتیا ضمانت ورکړی او د عقل او نېکۍ سرچینې ته یې ورسوی. د دې کتاب یوه حېرانوونکې چاره د دۀ بشپړوالے او د هر انسان د اړتیاؤ پوره کول دی چې د سورۀ لقمان په ۲۷ او د سورۀ کهف په ۱۰۹ ایت کښې بیان شوی دی. د دې کتاب په درکولو او ورباندې په پوهېدلو یو انسان کولې شی د ژوند په ټول اړخونو کښې ژوره او منظمه پروګرام سنجونه ولری او یو لړ په زړۀ پورې بریالیتونه ترلاسه کړی او په نړۍ کښې د وړومبی ټکی اعلان وکړی.

د خدائے ګران رسول ( صلی الله علیه و آله وسلم ) علم دوه ډوله بیانوی او فرمائی:

العلم علمان: علم الادیان و علم الابدان

))یعنې علم دوه ډوله دے یو د دین علم دے او بل د روغتیا او طب علم دے((

په حقیقت کښې هغه کسان چې د طب او روغتیا له علم سره څه تعلق نه لری نو په اسانتیا سره ځان پېژندنه نه شی لرلې. په حقیقت کښې ځان پېژندنه د دین باورۍ بنیاد او ستنه ده. حضرت علی (ع) د خدائے له ګران پیغبر ( صلی الله علیه و آله وسلم ) څخه په دې اړه داسې نقلوی:

من عرف نفسه فقد عرف ربه

))يعنې چا چې خپل ځان وپېژندو نو بسهغۀ رب وپېژندو((

په زړۀ پورې خبره دا چې دا دواړه علمونه په قرآن مجيد کښې په واضحه توګه بيان شوی دی چې له دې نه په ښه او غوره توګه استفاده کېدې شی او انسان خپل ژوند ورځ په ورځ لا زيات خوږولې او له ژوند نه خوند اخيستې شی او ارامښت، راحت او امنيت ته رسېدې شی.

تر ټولو وړومبنی دوه مبارك ايتونه چې د خداے په ګران رسول ( صلی الله عليه و آله وسلم ) باندې نازل شول د طب او روغتيا په حقله ايتونه دی چې فرمائی:

اقرا باسم ربک الذي خلق ، خلق الانسان من علق (سورۀ علق ا او ۲ ايتونه(

))د هغه خداے په نامې سره ولوله چې پېدا يې کړ، پېدا يې کړ انسان له علق نه((

علق څه ته وائی؟

علق هماغه (( سپرمېټوزوئيډ spermatozoide له اوولovule سره )) دے، نو ايا دا د طب او روغتيا علم نه دے؟

په زړه پورې خبره دا چې په قرآن مجيد کښې حتی د بدن بنيادی سېلولونه هم بيان شوی دی چې زۀ عاجز بنده په دې اړه د يوې څېړنې د تدوين په حال کښې يم او که خداے کول په راتلونکو نزديو وختونو کښې به يې خوږو او قدرمنو ورونو او خوېندو ته وړاندې کړم.

قرآنی روغتيا (دريمه برخه(

)دليلونه(

۱ -ولا رطب ولا يابس إلا في كتاب مبين ( سورۀ انعام **۵۹** ايت(

۲ -ونزلنا عليک الکتاب تبيانا لکل شيء وهدی ورحمة وبشری للمسلمين (سورۀ **نحل ۸۹** ايت.(

۳ -په قرآن مجيد کښې د خوراك څښاك په حقله د ۱۶۰ ايتونو شتون.

۴ -په قرآن مجيد کښې د (( فلينظر )) کلمې څلور ځل بيان.

**۵** -د (( فلينظر )) کلمې دوه ځل ذکر د انسان له خوراك سره مخصوص کېدنه.

۶ -په قرآن مجيد کښې د (( شفاء )) د کلمې څلور ځل بيان.

۷ -شفا يعنې علاج، ښۀ کېدل او سلامتيا .

۸ -شفا يعنې بيماری، ناجوړتيا او له لاسه د سلامتيا ورکول.

۹ -له يو خوراکی څيز (شاتو) سره د شفا ځانګړتيا .

۱۰ -په دريو چارو کښې له قرآن مجيد سره د شفا اختصاص

۱۱ -بې له خوراك څښاك نه د ژوند دوام هيڅ معنا نه لری = مرګ

۱۲ -خوراك د انسان درمل دی او د هغهٔ درمل پکار دی خوراك وی.

۱۳ -خوراکونه د انسان په اعمالو او چلند کښې زيات تاثير لری.

۱۴ -د خوراك اهميت له دې نه هم څرګند دے چې په اخېرت کښې به انسان ته د اجر په توګه ورکول کيږی.

اوس هم د پاس بيان شويوځينو ټکو تفصيل

۱ (( -هيڅ لوند او اوچ داسې نشته چې په قرآن کښې نه وی)) دا مبارك ايت د دې الهی کتاب د بشپړتيا او پوره والی ښودنه کوی د ژوند ټولې چارې او هر هغه څيز چې انسان ورته په ژوند کښې اړتيا لری بيانوونکے دے دا مبارك ايت په قرآن مجيد کښې د يوې سترې معجزې حيثيت لری ( لږ غور او فکر پکار دے(

۲ -خدا ے پاك مونږ انسانانو ته يو داسې کتاب راولېږۀ چې په ټولو اړخونو کښې د ټولو چارو بيانونکے دے، په دې سربېره د ټولو مسلمانانو لپاره د هدايت، رحمت او زېرى سبب دے او د دې کتاب د درکولو او وربانديې د پوهېدلو او ورنه د کار اخېستلو په صورت کښې به نېکمرغی، سلامتيا او سترې کاميابی ته ورسيږی.

۳ -د خوراك ښناك په حقله د يو سل او شپېتو مبارکو ايتونو شتون د خوراك ښناك د اهميت ښودنه کوی چې خدا ے د انسان لپاره د څومره ارزښت قائل دے او څومره د هغهٔ سلامتيا او نېکمرغی خوښوی.؟

۴ -په قرآن مجيد کښې ځلور ځل د (( فلينظر )) کلمه د دې موضوع د اهميت ښودنه کوی چې په عامه توګه مونږ مسلمانان له دې خبرداروونکو لوړو ټکو نه بې خبره يو ځکه چې په قرآن مجيد کښې غور او فکر نه کوو.

پاملرنه: فلینظر له دستوری نظره د امر فعل دے او په انسان باندې دا خبره لازمی کوی چې په دې حقله څېړنه ، تحقیق ، غور او فکر وکړی له دغو څلورو فلینظرونو څخه دوه فلینظرونه خداے د انسان له خوراك سره مخصوص کړی دی ( لږ غور پکار دے(

الف: یو فلینظر د انسان د خوراك ډول ته مخصوص کړے شوے دے ( سورۀ عبس **۲۴** ایت(

ب: بل فلینظر د انسان د خوراك کېفیت ته مخصوص کړے شوے دے ( سورۀ کهف **۱۹** ایت(

ج: دریم فلینظر د انسان خلقت ته مخصوص کړے شوے دے سورۀ طارق **۵** ایت(

د: څلورم فلینظر د انسان اعمالو ته مخصوص کړے شوے دے ( سورۀ حج **۱۵** ایت(

له دې څلورو کلمو څخه د ریاضۍ یوه فارمولا تر لاسه کیږی:

)د انسان خلقت + د انسان اعمال = د انسان خوراك(

نتیجه:

الف: د فلینظر کلمه دوه ځل خوراك ته مخصوصول د خوراك د ډېر زیات اهمیت ښودنه کوی.

ب: د خوراك د نیشتوالی په صورت کښې د خلقت مفهوم له منځه ځی.

ج: د انسان خوراك د هغۀ د خلقت او اعمالو برابر دے

**۵** –په قرآن مجید کښې د شفا کلمه څلور ځل بیان شوې ده.

الف: د سورۀ آل عمران **۱۰۳** ایت

ب: د سورۀ توبه **۱۰۹** ایت

ج: د سورۀ اسراء **۸۲** ایت

د: د سورۀ نحل **۶۹** ایت

نتیجه:

د شاتو په شان خوراك ته د شفا اختصاص ورکول يوه د غور او فکر او څېړني خبره ده.

د د قران د دري نورو موردو اختصاص چې په حقیقت کښې د دغو څلورو موردو اختصاص دے (( خوراك او الهی کلام دے((

په اصل کښې د هيڅ يو موجود لپاره بې له خوراك نه ژوند تېرول ممکن نۀ دی يعنې لله خوراك خوړلو نه بغېر ژوند ته دوام ورکول هيڅ امکان نه لری.

۶ –په حقیقت کښې د انسان خوراك د هغۀ درمل دی او د هغۀ درمل پکار دی خوراك وی.

پاملرنه:

په دنيا کښې هر يو جاندار د خپل فطرت او غريزې په مطابق خوراك خوری بې له انسانه چې د خپل فطرت او غريزې خلاف ورزی او ترې نه بغاوت کوی او ګډوډی رامنځته کوی ( د سورۀ روم ۳۰ ايت ته پاملرنه وکړئ(

۷ –د خوراك څښناك ډول او څه رنګوالے د د انسان په کردار او کړچار کښې دومره اثر لری چې کولې شی هغه يا صالح او سخی کړی او يا يې شقی، په ګناه ککړ کړی. خدا ے پاك په دې حقله خپلو پېغمبرانو ته فرمائی:

يا ايها الرسل کلوا من الطيبات واعملوا صالحا اني بما تعملون عليم. (سورۀ مومنون ۵۱ ايت(

))اے زما رسولانو! پاك او پاکيزه خوراکونه خورئ او نېك کارونه کوئ چې بې له شکه زۀ ستاسو له اعمالو نه خبر يم((

يا په يو بل ځاے کښې فرمائی:

ميته او دما مسفوحااو لحم خنزير فانه رجس. (سورۀ انعام ۱۴۵ ايت(

))مردار يا بهېدلې وينه او يا د خنزير غوښه چې دا ټول پليت دی((

نتیجه:

له دغو دوو پاسنو مبارکو ایتونو څخه دا نتیجه اخلو چې پکار دی پام وکړو چې خوراك ښکلاك د انسان په روزمره ژوند کښې څومره زیاته اغېزه لری؟

الف: خوراك ښکلاك کولې شی یو انسان نېکمرغه کړی او د نور د سرچینې په لور یې بوځی. ( د خدای ګران پیغبر (ص) )

ب: همدا رنګ کولې شی له یو انسان څخه یو شقی ، پلیت او بدمرغه انسان جوړ کړی ( د خوراك ښکلاك ډول)

۸ –خدای پاك انسانانو ته په اخرت کښې د هغوی د کړیو اعمالو په بنیاد اجرونه او جزاګانې ورکوی چې نېکوکارانو ته یې دا ډول اجرونه په نظر کښې لرلی دی:

و فاکهة مما یتخیرون . و لحم طیر مما یشتهون . و حور عین . کامثال اللولو المکنون . جزا بما کانوا یعملون . ( سورۀ واقعه له ۲۰ تر ۲۴ ایتونه)

))او مېوې به د هغو ی د خوښې وی او د هغوی د خواهش مطابق د مارغانو غوښې به وی او حورې به وی غټو سترګو والالکه چې په سیپو کښې چې مرغلرې وی دا په حقیقت کښې د دوی د اعمالو او اجر او انعام دے((

نتیجه:

په دې مبارکو ایتونو کښې وینو چې عظیم الشان خدای پاك نېك عمله انسانانو ته په انعام او اجر کښې وړومبے خوراك ورکوی او بیا ورته نور نعمتونه عطا کوی ( لږ غور پکار دے)

البته خدای پاك بدعملو ته بیا داسې سزا ورکوی:

لآکلون من شجر من زقوم. ( سورۀ واقعه ۵۲ ایت(

))تاسو به د زقوم له ونې څخه خوړونکی یئ((

نتیجه:

بیاهم په دې مبارك ایت کښې وینو چې خداے پاك بدعملو ته سزا او بدله د زقوم له ونې څخه خوراك ورکوی او له دې نه د خوراك څښاك په اهمیت لا زیات پوهېږو چې که په جنت کښې وی که په دوزخ وی او که په دې دنیا کښې وی وړومبۍ خبره د خوراك ده او بې له خوراك نه ( که هغه هر ډول وی ) په هیڅ یوه دنیا کښې ژوند کول ناممکن دی. البته په دې حقله قرآنی دلائل ډېر زیات دی که وغواړو نو چې ټول بیان کړو نو ځانته یو غټ کتاب ته اړتیا لری. چې په راتلونکو نزدیو وختونو کښې به داسې یو کتاب د قرآنی روغتیا مینه والو ته وړاندې کړم.

باید دلته د دې خبرې یادونه وکړم چې کېدې شی ځینې ناخبره او غرضی کسان دا اعتراض وکړی چې ولې د اهلبېتو د پاکو امامانو ذکر نه کوې او په دغې خبرې پورې ونښلی او ناوړه استفاده ترې وکړی نو د داسې کسانو په ځواب کښې به ووایم چې هر کله د قرآن خبره کیږی نو اهلبېت علیهم السلام خو له قرآن مجید نه جدا نه دی هغوی خو د قرآن په زړۀ کښې ځاے لری ځکه چې د خداے ګران رسول (ص) په دې حقله فرمائی:

))انی تارک فیکم الثقلین کتاب الله و عترتي اهل بیتي لن یفترقا((....................

))زۀ تاسو ته دوه درانۀ او ارزښتناك څیزونه پرېږدم یو د خداے قران او بل زما عترت اهلبېت دی چې دوی به کله هم له یو بل نه جدا نه شی ...............................تر اخېره((

)صحیح ترمذی، مسند احمد بن حنبل، کنزالعمال، تفسیر ابن کثیر،نیابیع الموده، ارجح المطالب، الدرالمنثور، سیوطی وغېره(

په حقیقت کښې په دې مبارك حدیث کښې د (( لن )) کلمه تر ابده نفی ده یعنې قرآن مجید او اهلبیت (ع) تر ابده هیڅکله له یو بله نه شی جدا کیدې ( لږ غور پکار دے(

په زړهٔ پورې خبره دا ده چې اهلبیتوامامانو علیهم السلام د خوراك او سلامتیا په باره کښې ډیرې سپارښتنې کړې دی او مونږ انسانان یې د هغو خیال ساتلو ته هڅولی یو. لکه حضرت امام علی (ع) په دې حقله یوه ارزښتناکه سپارښتنه خپلو فرزندانو ته کوی چې په اصل کښې ټولو انسانانو ته نصیحت دے چې په خیال ساتلو سره به انسان د ډاکټر او طبیب له نسخې نه بې نیازه شی

له بیماریو څخه د مخنیوی لپاره د حضرت امام علی (ع) نسخه:

·ترڅو چې اوږی شوی نه یئ نو په دسترخوان مه کښېنئ.

·له مړیدو نه لږ وخت مخکښې لاس له خوارهٔ څخه اوچت کړئ.

·د اودهٔ کېدو په وخت د مزاج اجابت وکړئ ( بیت الخلاء ته لاړ شئ(

د پاسنو درې واړو وېناؤ په خیال ساتلو سره انسان په عملی توګه لیدلې شی چې  له بیماریو څخه مخنیوے څومره په اسان کیږی؟

پاملرنه:

مونږ دا خبره په عملی توګه کتې شو چې اهلبیتو امامانو ( علیهم السلام ) له بیماریو څخه د مخنیوی او د بیماریو د علاج لپاره د خوراکونو د استعمال سپارښتنه کړې ده. او دا خبره له قران مجید سره په کامله توګه سمون خوری. (( ځکه چې د خداے د ګران رسول (ص) او د هغوی د اهلبیتو ( علیهم السلام وېناګانې د قرآن مجید تفسیر دے((

دا لړې خبرې د قرآنی روعتیا په هکله قرآنی دلائلو ته یوه لنډه شان کتنه وه حال دا چې په دې الهی کتاب کښې په دې حقله ډېرې حېرانوونکې خبرې شته چې هیڅ یوې بل ډول روعتیا کښې وجود نه لری.